## ج برخه: د مالدارۍ د صنعت برخي

**دوېم لوست: د پسونو او اوزو دصنعت ازمايښت**

**د زده کونکو دزده کړې موخي:** په دې لوست کې زده کونکي باید لاندې موخي ترلاسه کړي.

1) د پسونو او اوزو د تولید د اصطلاحاتو په هکله بحث وکړي.

2) د پسونو او اوزو باندني غړي تشریح او پرتله کړي.

3) د پسونو او اوزو معمولي نسلونه تشخیص کړي.

4) د پسونو او اوزو د تولېد لاري روښانه کړي؟

**د لوست لپاره سپارښت شوی وخت:** (۳) ګړۍ

د دې لوست په تدریس کولو کې لاندې منابع ګټوري تمامیدی شي:

Ensminger, M.E, The Stockman's Hand book.

Danville, Illinois, interstate publishers, Inc. 1992

Cooper, Elmer L., Burton, DeVere L., ***Agriscience fundamentals and applications***. Albany, New York: Delmar. 2002(Textbook Unit 30)

Internet keywords: goat, sheep, lambing, wool, flock

**د لوازمو، وسیلو او برابرونکو اسانتیاوو لست**

- د لیکنې لپاره سپینه یا توره تخته(لېک دړه)
- پاورپواینټ او پروجکتور یا غټ ښودونکی
- د پاورپواینټ سلایدونه یا صفحي
- د پروجکتور لپاره روښانه کاغذ(ترانس پرنتس)
- دزده کونکو لپاره د لابراتوارکاغذ

## اصطلاحات

په دې لوست کې لاندې اصطلاحات وړاندې کيږي.( په غټو تورو باندې په نښه شوي دي):

د پاورپواينټ ۲ سلايد.

پسه(Buck)

کشميرۍ اوزه(cashmere)

د پسه څرمنه(Chummy)

طوېله(Confinement)

اوزه (Doe)

مېږه(Ewe)

ورغمی (kid)

وړی (wool)

يو کلن(yearling)

د ورغمی دتوليد مرحله(Kidding)

ورغمی(lamb)

د ورغمی د توليد مرحله(Lambing)

قېمتي وړی (Mohair)

د پسه غوښه(Mutton)

مږ(Ram)قوچ

خصی شوی پسه (Wether)

پاورپواینټ ۲ سلاید

**دلوست لپاره په زړه پوري مهارت:** د زده کونکو د ښه تدريس لپاره يوه ښه تګ لاره غوره کړئ ترڅو زده کونکي د زده کړې لپاره تيار شي.

ښوونکي د ځانګړو ټولګيو لپاره د زده کونکو د پوهې په اساس د لوست تګ لاره جوړوي، دا ممکنه لاري کيداي شي په لاندې ډول سره وي:

له زده کونکو غوښتنه وکړئ چې د پسونو او اوزو ممکنه توليېدات کوم دي؟هغوي دي بيلګي په تخته وليکي، زده کونکو ته وواياست چې د اصطلاحاتو لکه شيېدو، وړی، څرمني، غوښي، جامو او نورو څخه ګټه واخلي. وروسته له زده کونکو پوښتنه وشي چې په خپلو کورونو کې له کوم يو څخه ګټه اخلي.

## د درس ورکول ستراتيژي او د محتوياتو لنډيز

**۱ موخه:** په خپل منځ د هغه اصطلاحاتو په هکله بحث وکړئ چې د پسونوا اوزو پوري اړه لري.

**اټکل شوې ستونزه:** ځنې ځانګړي اصطلاحات چې د پسونو او اوز د حاصلاتو د روښانه کولو لپاره استعماليږي کوم دي؟

کله چې زده کونکي ټولګی ته داخليږي، بايد چې هر يو له هغوي څخه دا اصطلاحات په يو کاغذ کې ليکلي وي او د ټولګی په دننه يې ځای په ځای کړي. له دې وروسته خپلو ځايونو ته لاړ شي او وروسته د دې اصطلاحاتو په باره کې بحث وشي او تعريف شي.

هغه اصطلاحات چې دپسونو او اوزو د توليېداتو د روښانه کولو لپاره استعماليږي کوم دي؟

1. لاندې اصطلاحات دپسونو او اوزو د حاصلاتو د روښانه کولو(تشخيص) لپاره په کار وړل کيږي:

A. **Doe** : د ښځينه اوزې څخه عبارت ده په هر عمر کې چې وي.

B. **Buck:** د اوزو نارينه جنس چې په هر عمر کې وي.

C. **Kid:** د اوز هر يو جنس چې عمر يې له يو کال څخه لږ وي.

D. **Yearling:** هغه اوزه چې عمر يې له يو کال څخه لوړ وي.

E. **Wether**: ځوان خصي شوي سيرلی او پسه چې په ځوانی کې خصی شوې وي.

F. **Ram**: نارينه پسه د کوم څخه چې په نسل اخستنه کې ګټه اخستل کيږي.

G. **Ewe**: هغه اصطلاح چې د ښځينه پسونو لپاره کارول کيږي.

H. **Kidding**: د اوزو د بچيو دتوليد د پروسي څخه عبارت ده.

I. **Lambing**: د ورغمو دتوليږد مرحلي نه عبارت ده.

J. **Lamb**: ديو کلن ورغمي نه عبارت دی او همدارنګه د ځوان پسه د غوښي لپاره دا اصطلاح کارول کيږي.

K. **Mutton**: د پسه د غوښي نه عبارت ده د کوم عمر چې له يو کال څخه لوړ وي.

L. **Chammy**: هغه څرمنه چې داوزو او پسونو څخه په لاس راځي.

M. **Wool**: د پسه د پوښ نه عبارت دی چې له ريښو څخه يې د جامو په توليږد کې ګټه اخستل کيږي.

د پاور پواينټ 3,4,5,6 او TM :1-2 استعمال مرسته کوي ( د دې اصطلاحاتو د يادول په خاطر). همدارنګه زده کونکي دې د هرې اصطلاح په خاطر د ښودونو(نمايشونو) کارتونه جوړکړي، ددې کار لپاره دې يوه ورقه کاغذ د ٤ مربع ګانو د څنډو په ډول غوځ کړي.وروسته دې زده کونکي د مربع په يو مخ اصطلاح وليږکي او په بل مخې دې ورته دهمدې اصطلاح تعريف وليکي.

**۲ موخه:** د پسه او اوزې باندني غړي روښانه او پرتله کړئ.

**اټکل شوي ستونزې:** هغه توپيرونه چې د اوزو او پسونو ترمنځ شتون لري کوم دي؟

زده کونکي دې د ټولو هغه ورتوالو لست جوړ کړي چې د اوزو او پسونو ترمنځ شتون لري. وروسته دې د هغوي د توپيرونو لست وليکي. ودې وايې چې د کومو جوړول نسبتاً اسان کار دی.

II. د پسونو او اوزو ترمنځ په زياته پيمانه ورتوالي او توپيرونه شتون لري. دواړه د غولانځی لرونکي دي. د شخوند وهلو هضمي سيستم(پيچلی) لرونکي دي او سمان يې دوه پلئي دي يعني سم يې په دوه برابرو برخو ويشل شوي وي.دواړه اقتصادي ارزښت لري. ولې پسونه معمولاً د زيات اقتصادي ارزښت لرونکي دي. **دپاور پواينټ ۷-۸ سلايدونه**.

A. پسونه د خوراکی او جامو په خاطر روزل کيږي.پسونه په هغه ځايونو کې روزل کيږي په کوم کې نورڅاروي د اقليم د ناکواره شرايطو په اساس نه شي پالل کيدلی. پسه نسبت اوزې او نورو څارويو ته غذايي مواد په اسانی سره په غوښي بدلوي. پسونه د څړ لپاره د نباتاتو پلنو پاڼو او دګراس کورنۍ ګیاوو ته ترجيح ورکوي.د نورو څارويو سره د پرتلې په توګه لکه غوښيني غواوي، پسونه د خوراکي د ټاکنې لړ چانس لري. په نورو هېوادونو کې د پسونو د حاصلاتو مصرف لوړدی. د پسونو غوره توليږد کونکي نيوزلنډ او استراليا دي. له همدې امله په دې دوه هېوادونو کې د پسونو توليدداتو ته د خلکو غوښتنه زياته ده او همدارنګه د پسونو د روزنې لپاره شرايط برابر دي. دپسونو وزن د ۴۵-۱۰۲ کېلو ګرامو ترمنځ او عمر يې د ۷-۱۳ کالو په منځ کې قرار لري. د پسونو زيات نسلون شتون لري کوم چې دغوښې، وړيو او يا دواړو د توليږد په خاطر کارول کيږي.

B. اوزې د خوراکي او جامو د توليږد لپاره روزل کيږي. د اوزو څخه ګټه اخستنې د مېلاد څخه ۳۰۰۰-۷۰۰۰ کاله مخکې شتون درلود. د انګورا اوز څخه قيمتي وړۍ لاس ته

راځي کومې چې د وړینو توکو د جوړولو لپاره په کار وړل کیږي.څرنګه چې اوزې د اونو کوچنیو ښمبو او پانو ته د خوراک لپاره ترجیح ورکوي پس د غواو او پسونو د خوراکي له نظره دخوراکي د اړتیا رقابت کم دی.په همدې اساس د پسونو سره یوځای څرول کیږي. دا واړه څاروي دي چې په اسانۍ سره اداره کیږي. د بلوغیت په مهال یې ژوندی وزن ٦٨ کېلو ګرامه او لوړوالی یې ٤٠-١٢٢ سانتي متره وي. عمر یې د ٨-١٠ کالو ترمنځ قرار لري. **د پاورپواینټ ۹ سلاید.**

C. پسونه او اوزې زیاتې باندنۍ برخې لري.چې دهغوي د بحث په برخه یا د یادولو په خاطر اړین بریښي. **پاورپواینټ ۱۰-۱۱ سلایدونه.**

د TM استعمال: 2-2. د پاورپواینټ ۱۰-۱۱ نمبر سلایدونه د پسونو او اوزو زیاتې باندۍ برخې مشخصې کوي.

**۳موخه:** د پسونو او اوزو معمولي نسلونه تشخیص کړئ.

**اټکل شوي ستونزي:** د پسونواو اوزو معمولي نسلونه کوم دي؟

III. په نړۍ کې د ۲۰۰ نه زیات د پسونواو له ۳۰۰ نه زیات داوزو نسلونه شتون لري. دپسونو او اوزو ځانګړي نسلونه د مشخصو موخو او اړتیا مطابق ټاکل کیږي. ټول څاروي باید د مشهور او پوه تولید کونکو څخه وپیرل شي ترڅو د ناروغیو څخه پاک وي.په ټوله نړۍ کې د پسونو او اوزو لاندې بیلګې نسبتاً په رواجي توګه تر استفادې لاندې نیول کیږي . **پاورپواینټ ۱۲ نمبر سلاید.**

A. سفولک د نړۍ یو له مهمو نسلونو څخه شمیرل کیږي. د پسونو دا نسلونه دمنځني حد وړیو تولیدونکو له جملې څخه دي. پلرني ټاټوبی یې انګلستان دی. لویه جوسه لري، د سر، پښو او غوږونو رنګ یې تور دی. دا نسل بې ښکرو دی او د وړیو کلنی تولېد یې د ۳،٦-

۵،٤ کيلو ګرامو ترمنځ دی. د توالد سلنه يې ۱۵۰ فيصده ده .(د دوه ګونی توالد په زړه پوري قدرت لري). د سفوليک پسونو خاوندان د ورغمو د توليدونکو معمولي توليد کونکي دي. **پاور پواينټ ۱۳ سلايد.**

B. د ډوريسټ پسه اصلي ټاټوبی انګلستان دی.دا نسل په ۱۸۸۷ کال کې تثبيت شوی دی. دا پسونه د منځني حد وړيو توليدونکو، ښکرلرونکو او يابي ښکرو او رنګ يې په پوره توګه سپين وي.جوسه يې منځني حد لري او دوړيو کلنی توليد يې ۳-۳،٦ کيلو ګرامه وي.د دې نسل ميږې د نسل اخستنې په مهال د منی په موسم کې ورغمي توليدوي. د جسد دغوره عضلاتو او د شيدو د ښه توليد کونکو له جملې څخه دي.**پاور پواينټ ۱٤ سلايد.**

C. د قره قل  پسونه د ځانګړ کيفيتونو لرونکي دي. تور جين يې غالب وي په همدې اساس په زياته فيصدئ سره يې بچې تور دنيا ته راځي. په اساسي توګه د صحرايي دښتي څاروي دي، د لم په شاوخوا کې غوړ ذخيره کوي او له هغې څخه د ډنګروالي پرمهال ګټه اخلي. د دوي پوستکی د زياتي پخوا زماني راهسي د ورغمي د پوستکی په نوم ياديږي. دا چې داپسونه د سختې جوسي لرونکي دي او د اقليمي شرايطو سره د توافق غوره قدرت لري. ځير پوستکی لري چې په هغې کې د حلقو نقشې طرح شوي. دا پسونه په چين کې د وړيو د تجارتي افسانو لپاره يو ښه قلم مواد دي. چې له هغې څخه د کرتيو، جاکټونو او خوليو جوړونکو برخو په توګه ګټه اخستل کيږي.په همدې دليل اکثره قره قل د سمور پوټکی په نوم ياديږي. **پاورپواينټ ۱۵ سلايد.**

D. افغانستان د ځانګړومرکزي اسيايي نسلونو له کور څخه عبارت دی چې په ځانګړي توګه د هغې له محلي اقليم سره يې توافق کړی دی او د تجارتي نظره د اهميت وړ دی. د يادونې وړه ده چې زيات نسلونه له دوي څخه د ګرد لم لرونکي دي. ترکی پسونه په خپله شاه کې

د اوښ په شان دوه ځانګړي غوړين کوهانونه لري. په چټکی سره نمو کوي او د ښې غوښي توليږد کونکي دي. د وړيو ښه توليږد کونکي نه دي. د افغانستان په شمالي برخو کې روزل کيږي. دا پسونه د مهاجرو په واسطه پاکستان ته وړل شوي دي چې په هغه ځای کې د افغاني پسونو په نوم ياديږي. **پاورپواينټ ۱۶ سلايد.**

E. د انګورا اوزو اصلي ټاټوبی ترکيه ده او د هغه ساحو سره ښه توافق لري د کومو سره چې نور څاروي ښه توافق نه لري. د انګورا اوزي د بلوغ پرمهال سپين رنګ لري او دقيمتي وړيو کلنی توليږد يې ۳ کيلو ګرامه دی. دا څاروی ښکر لرونکی ، اوږده او ځوړند غوږونه لري.د دوي د قيمتي وړيو وزن د ۵۷-۷۹ کيلو ګرامو پوري رسيږي. ښځينه جسن يې د ۳۶-۴۱ کيلو ګرامو پوري وزن لري.**پاورپواينټ ۱۷ سلايد.**

F. دشيدو ورکونکو د شيدو وزن يې هره ورځ ۲،۳ کيلو ګرامه دی. د نری د شيدو ۱،۸ فيصده شيدي تشکيلوي. شيدي نسبت شيدي ورکونکو غواو ته زيات معدني مواد لري. د ماشومانو او کم عمر لرونکو پواسطه په اسانی سره هضميږي. **پاورپواينټ ۱۸ سلايد.**

G. غوښيني اوزي د هسپانوي اوزو په نوم ياديږي او د شيدو او غوښي د توليږد لپاره تري استفاده کيږي. د لرې پاملرنې لاندې ژوند کولی شي.همدارنګه د بټو او وښو پواسطه ژوندي پاتي کيږي. ځني يې د بوټو خوړونکو اوزو په نوم ياديږي. **پاورپواينټ ۱۹ سلايد.**

**H. کشميری اوزي:** دې اوزو د ټاکنو او نسل پواسطه انکشاف کړی دی. کشمير د قيمتي وړيو د لاندني پوښ څخه عبارت دی چې د اوزو پواسطه توليديږي. د کشميري قيمتي وړيو لپاره ډيره غوښتنه شتون لري ځکه چې کم توليديږي.هغه اوزي چې ټينګ رنګ لري د قيمتي وړيو د توليږد لپاره ورته ترجيح ورکول کيږي.همدارنګه هغه اوزي چې توپيري رنګونه ولري هم ددې موخې لپاره په کار وړل کيږي. **پاورپواينټ ۲۰ سلايد.**

I. لنډ قد لرونکي اوزي لومړی له افریقا څخه راوړل شوي دي. دا اوزي په خپلو اوږو کې د ۴۰-۵۰ سانتي مترو په اندازه لوړوالی لري او ښکر لرونکي دي. د دې اوزو څخه د کورنیو څارویو او تحقیقاتي څارویو په توګه ګټه اخستل کیږي. **پاورپواینټ ۲۱ سلاید.**

**د اوزو د مختلفو نوعو د انځورونو د ښودلو په خاطر له TM:2-3 او پاورپواینټ سلایدونه استعمال کړی.**

**۴ موخه :** د پسونو او اوزو د تولېد تګ لاري روښانه کړئ؟

**اټکل شوي ستونزي:** تاسې په څه ډول پسونه او اوزي تولېدوی؟

IV. د پسونو د تولېد پنځه سیستمونه شتون لري. **پاورپواینټ ۲۲ سلاید.**

A. د پسونو د تولېدي فارم د سیستم تګ لاره د هغه رمي څخه عبارت ده چي د یو څخه تر ۱۰۰۰ پوري پسونه ولري. د دې سیستم موخه د مارکیټ په خاطر ، د ورغمو تولېد او د وریو تولېدول دی.

B. د سوچه نسل رمي د هغه سیستم څخه عبارت دی چي د هغي په اساس د مېږو او مړانو په زړه پوري نوعي پلورل کیږي.ښه اداري ته اړتیا لري. د وراثت علم ته هم اړتیا لېدل کیږي. **پاورپواینټ ۲۳ سلاید.**

C. د څړکولو سیستم: په دې سیستم کي د لویو پسونو ګروپونه چي شمیر یي له ۱۰۰۰-۱۵۰۰ پسونو پوري وي شتون لري چي د یو پادوان پواسطه اداره کیږي. هغه پسونه چي غوښه تولېدوي د زیاتي ګیاه لرونکي څرځای نه استفاده کوي او هغه پسونه چي وړی تولیدوي د هغه څرځای نه استفاده کوي کوم چي لږه ګیاه لري.

D. یو شمیر تولید کونکي د پسونو د روزلو لپاره د طوېلئي سیستم څخه ګټه اخلي. په دې سیستم کې پسونه په کامله توګه په طوېله کې روزل کیږي. دا لاره مشهوره ده ځکه چي لږې

ځمکې ته اړتیا لري، د پرازیتونو ستونزه یې کمه وي، د پسونو پلټنې په اسانۍ سره صورت نیسي او په طویله کې د نورو څارویو روزلو موفقیت شتون لري. ځنې زیانونه یې عبارت دي له د تعمیر لوړ مصرف، د خوراکي لوړ مصرف او اداري ته زیاته اړتیا لري.

**پاورپواینټ ۲٤سلاید.**

E. د چاقېدونکو ورغمو تولېد په طویله یا هغه ځای کې چې ورغمي تغذیه کیږي د مور څخه د ورغمو جلا کول او په نورو روزونکو یې پلورل دي ( ترهغه وخته چې د حلالي لپاره مناسب وزن واخلي). **پاورپواینټ ۲۵ سلاید.**

د پسونو د تولیدي سیستم نوعو ته د راجح مباحثې لپاره له TM: 2-4 او TM: 2-5 او همدارنګه د LS:2-1-2 څخه د ټولګی د لابراتوارپه توګه استفاده وکړئ.

## بیالېدنه/لنډیز

د لوست د لنډیز لپاره د زده کونکو یادې کړي شوي موخي استعمال کړئ. زده کونکي باید هغه محتویات چې د هرې موخې پوري اړه لري روښانه کړي. زده کونکي باید په خپل منځ کې د پسونو اواوزو پوري تړلي اصطلاحاتو باندې بحث وکړي. وروسته د پسونو او اوزو باندني غړي روښانه او پرتله کړي. په پای کې د پسونو او اوزو تولېدي تګ لاري روښانه کړي.

**اجراکونه:** اجراکونه یې په لابراتوار کې د زده کونکو دبرخې اخستنې په اساس برابریږي.

**ازمویل:** ازمویل په هغه موخو متمرکز وي چې زده کونکي یې په هر لوست کې زده کوي. د دې موخې لپاره توپیري کړنلاري استعمالیږي د بیلګي په توګه په لابراتوار کې عملي کارونه کول چې په لېکلي بڼه ازموینه یې ضمیمه وي.

### د ساده ازموینې لپاره ځوابونه:

**لومړۍ برخه: اړیکه ورکول (Matching)**

1 = g, 2 = a, 3 = f, 4 = e, 5 = b, 6 = d, 7 = c, 8 = h

**دوېمه برخه: د جملو پوره کول**

1. Wether – خصی شوی پسه
2. Ram: مړ
3. Ewe: مېږه
4. Kidding: د اوزو بچی تولېدونه
5. Lamb: ورغمی
6. Chammy: څرمنه

**درېمه برخه: لنډ ځوابونه**

د لاندې هر يوځواب لپاره سوال پيداکړئ؟

**A.** د وړيو نرخ تل په تغير کې وي، حتي که تاسي نن په ګټه کې ياست، ولي بله ورځ به ګټه ونه کړی، يا ددي معکوس، د وړيو تولېد او مصرف په دوامداره ډول په تغير کې وي.

**نوم** ___________________________ **ساده ازموينه ١-٢**

**ټولګيوالو ازموينه**

**لومړی برخه: اړيکه ورکول(Matching)**

**روښانه کول:** درست اصطلاحات دځوابونو سره ونښلوئ. د اصطلاحاتو مناسب توري د لېکل شوو شميرو په مقابل کې د ځوابونو په تشه کې وليکئ.

a. پسه

b. سيرلی

c. طوېله

d. اوزه

e. د ۱-۲ کالو ترمنځ عمر لرونکي اوزه

f. دپسه غوښه

g. وری

h. دورغمي د تولد مرحله

----- **۱-** د پسونو پوښ چې د رېښو په ډول د جامو د تولېد په خاطر استعمالیږي.

----- **۲-** نارینه اوزه چې په هر عمر کې وي.

----- **۳-** د هغه پسونو غوښه چې عمر یې د ۱-۲ کالو ترمنځ وي.

----- **٤-** د اوزو هر یرجنس چې عمر یې د ۱-۲ کلنو ترمنځ وي.

----- **٥-** د اوزو هر یو جنس چې عمر یې د یو کال څخه لږ وي.

----- **٦-** اوزه چې په هر عمر کې وي.

----- ۷- په طوېله کې د څارویو روزنه.

----- ۸- په پسونو کې دورغمو د تولد مرحله.

**دوېمه برخه: د جملو پوره کول**

**روښانه کول:** دلاندې جملو د بشپړکولو په خاطر لغت یا لغاتونه پیداکړئ:

1. __________ د ځوان نارینه خصی شوی سیرلی یا پسه نه عبارت دی.

2. __________ د پسه نه عبارت دی چې د نسل اخستني په خاطر استعمالیږي.

3. __________ هغه اصطلاح ده چې د ښځینه پسه لپاره استعمالیږي.

4. __________ د سیرلکو د تولد مرحله ده.

5. __________ هغه اصطلاح ده چې د یو کال نه لږ عمر لرونکو پسونو او غوښنینو
ځوانو پسونو لپاره استعمالیږي.

6. __________ هغه څرمنه ده چې د پسه او اوزي نه په لاس راځي.

**درېمه برخه: لنډ ځوابونه**

لاندې سوالونوته ځوابونه برابر کړئ.

پنځه فکتورونه چې د مطلوبو او نامطلوبو پسونو دتولیږد لپاره شتون لري روښانه کړئ.

## دپسونو او اوزو اصطلاحات

- **Doe** د اوزي نه عبارت ده چې په هرعمر کې وي.
- **Buck** د نارینه اوزي نه عبارت دی چې په هر عمر کې وي.
- **Kid** د دواړو جنسونو له بچیو نه عبارت دی چې عمر یې له یو کال څخه لږ وي.
- **Yearling** د دواړو جنسونو د بچیو نه عبارت دي چې عمر یې د ۱-۲ کلونو ترمنځ وي.
- **Wether** نارینه پسه او اوزي نه عبارت دی چې په ځوانی کې خصی شوي وي.
- **Ram** دنارینه پسه نه عبارت دی چې د نسل اخستنې په موخه استعمالیږي.
- **Ewe** هغه اصطلاح ده چې د ښځینه پسه په خاطر استعمالیږي.
- **Lambing** د ورغمو د تولد له مرحلې نه عبارت ده.
- **Kidding** د سیرلکو د تولد د مرحلې نه عبارت ده.

- **Lamb** د هغه پسه نه عبارت دی چي عمر یې د یو کال نه لږ وي او همدارنګه د غوښنین پسه لپاره چي ځوان وي استعمالیږي.
- **Mutton** د هغه پسه د غوښې نه عبارت ده چي عمر یې د یو کال څخه لوړ وي.
- **Chammy** د پسه او اوزي له څرمنو څخه عبارت دی.
- **Wool** د پسه د پوښ نه عبارت دی چي د ریښو په ډول د ځانګړو تولیداتو لکه جامو لپاره استعمالیږي.

## دپسه او اوزي باندني غړي






**TM: B2-3**

## د اوزو نوعي




(Spanish) هسپانیوی



(Pygmy) لنډ قد لرونکي



(Lemancha) لیمانچه



(French Alpine) الپاین فرانسوی



## دپسونو د تولېدي سيستم پنځه نوعي

| |
|---|
| په فارم کې درمې تولېدي سيستم |
| دسوچه نسل دپسونو رمه |
| څرکونکي ګروپونه |
| په طوبله کې تولېد |
| دورغمو تغذيه کول |

# په نړۍ کې دخامو وړيو تولېد اومصرف

په پيليون پونډ.

4.0

توليد

3.5

3.0

مصرف

2.5

1968 70 75 80 85

نوم______________________

## دلابراتوار ورقه

خپل ټولګی ته یو وترنر ډاکټر یا د پسونو کوم تولېد کونکی راوبلئ.هغوي باید هغه وسیلي، او لوازم راوړي کوم چې د پسونو په تداوی یا نسل اخستنه کې استعمالیږي. لوازم او وسېلي په مېز باندې کیږدئ. زده کونکي باید کوښښ وکړي ، سعیه وکړي چې هر یو نوعه له دې سامانونو څخه کومه نوعه ده او د کومې موخې لپاره په کار وړل کیږي.

| د لوازمو استعمال | دلوازمو نوم |
|---|---|
| ______________________ | 1. ____________________ |
| ______________________ | 2. ____________________ |
| ______________________ | 3. ____________________ |
| ______________________ | 4. ____________________ |
| ______________________ | 5. ____________________ |
| ______________________ | 6. ____________________ |
| ______________________ | 7. ____________________ |
| ______________________ | 8. ____________________ |
| ______________________ | 9. ____________________ |
| ______________________ | 10. ____________________ |